# خوشحال جاګيردار، زميندار که منصبدار ؟

## Khushal Khan Khattak, Feudal Lord, or Mansabdar?

**Dr. Ali Khel Daryab**♦
**Jamil Yousaf zai**♣

## Abstract:

Khushal Khan Khatak (1613-1689) the great Pashtoon classical Poet, thinker, scholar, warrior and leader has lived a metaphorical life stemmed in constant struggle, battles, scholastic and intellectual bolstering. Various dimensions of his life, writings, thoughts and wisdom are uncovered in the 19th and 20th century. In this paper, the researchers have constructed and elaborated their hypothesis segregating the dichotomy of Khushal Khan as Landlord or a High rank administrative employee (Mansbadar) of the Mughal Empire. The scholars have cross validated references that are mainly used subjectively.

د ستر خوشحال په بو قلمون شخصيت دګڼو زاويو نۀ بلا ليکل شوي دي او د خوشحال پېژندني په لړ کښې يې د ادب او تاريخ دمينانو پوره پوره لاربسودنه کړې ده. ولې د دغې ګڼ اړخيز شخصيت ځينې حېثيتونه داسې هم شته چې هغه نور سپيناوي ته اړتيا نۀ لري. او تر دې دمه په دغه حواله چا محقق لاکار نۀ دي کړی. مثلاً خوشحال بابا جاګېر دار بولي، څوک ورته زميندار وائي، او ځني نور يې منصبدار ګڼي. ځکه نو پکار ده چې په دې ترخ کښې حقائق وسنجوو او داخبره ثبوت ته ورسوو چې سترخوشحال دکوم حيثت څښتن ؤ. په دې اساس چې جاګېردار، زميندار، او منصبدار درې واړه اصطلاحات يو نۀ دي بلکې جدا جدا مفاهيم لري.

دوست محمد خان کامل، د خوشحال خان ختک دمشر نيکه اکوړه خان دجاګېر ذکر دا رنګه کوي.

---

♦ Dr. Ali Khel Daryab Assistant Professor, Department of Pashto, Malalkand University Chakdera Swat.
♣ Jamil Yousaf Zai Lecturer, Govt Degree Colleg

"پـورتني بيـان نـه دوه خبـرې مخـې تـه راځـي، يـو دا چـې اکـوړ خـان شـاهي ملازمـت اختيـار کـړو او بلـه دا چـې هغـه تـه د خيرابـاد نـه تـر نوښـار پـورې علاقـه پـه جـاګير ورکـړې شـوه. دجـاګير دغـه سلسـله د اکوړخـان نـه پـس يحيـیٰ خـان او شـهباز خـان تـه را اورسـېده، د تـاريخي شـواهدو نـه بريښـي چې شـهباز خـان پـه دغـه جـاګير کښـې د فراخـۍ دپـاره لاس وپښـې اووهـل او تر څۀ حده يې دغه بريدونه وخوزول"(1).

د تاريخ مرصع مؤلف د شهباز خان دغه کوششونه داسې بيانوي.

چــې شــهباز خــان پښــه پــه رکــاب فــتح کښېښــوه، خــوب او ارام د يوسـفزو ورک شـه، کـرات مـرات يـې منـدڼ مـړه کـړل، کـه هـر څـو پـلار پـه حيـات سـخت سـخت زخمونـه پـه تـن اخسـتي وو. اسـونه يـې پـه جنـګ کښـې ګـډ کـړی وو پـس لـه شـهادته د يحيـیٰ خـان پـه وخـت دخپلـي سـردارۍ لـه مندڼـه لـه اکوزيـه نـۀ خـراج او بـاج اخسـتو، تمـام منـدڼ يـې پـه خـرب د تـورې مسخر کړی وو".(2)

دافضـل خـان خټـک پـه دغـه بيـان کښـې دمبـالغې نـه عـلاوه يـوه مهمـه خبره دا مخې تـه راغلـه چې يحيیٰ خـان پخپـل وخت کښـې پـه پلارنـي جـاګير قـانع ؤ او پـه دغـه اړه يـې ګاونـډي قبيلـې نـۀ تنګـولې. بلکـې وروسـته يـې شـهباز خـان هـم منـع کولـو، پـه هـر طـور شـهباز خـان تـه پـه دغـه سلسـله کښـې څۀ نـه څۀ ګټـه يـې لاسـه شـوې ده، او هغـه خپـل جـاګير تـه پـه وسـعت ورکولـو کښې بريالی شوی دی.

دلتــه يــوه خبــره ديــادونې وړ ده او هغــه دا چــې د اکــوړې خــان، يحيــیٰ خـان، او شـهباز خـان دملازمتـو پـه حقلـه دشـاهي فـرامين څۀ بيلګـه زمـونږ پـه لاسـو کښـې نشـته، دڅۀ پـه بنيـاد چـې مـونږ د دغـه ملازمتونـو څرنګـوالی پـه ډاګـه ګـولې شـو. يـا ددې خبرې غـوټې پرانسـتې شـو چـې هغـوئ صـرف پـه مـالګزارۍ او محصـول ګـذاره کولـه کـه نـه د سـرکار لـه خـوا ورتـه هـم نـوره څۀ مرســته ورکــولې شــوه. دغــه رنــګ د دوئ د فــوځي خــدماتو پــه حوالــه معلومـات هـم دنـوم ورکـې پـه تيـارو کښـې بـې درکـه دي. البتـه دشـهباز خـان يـو جنـګ دوه داسـې شـته، خـو هغـه يـې هـم د جـاګير دفراخـۍ پـه تـرځ کښـې کـړي دي. نـۀ چـې مغلـي حکومـت دخـدمت هڅـه پـه نظـر راځـي. دمثـال پـه ډول

دبلړ دويم جنګ به واخلو، داجنګ دشهباز خان په ژوند کښي د ډېر اهميت جوګه دی. چې هغه په کښې د ټپي کېدو نه پس فالج اووهٔ او څو ورځي پس په حق ورسېد. د دې جنګ دمحل وقوع په حقله دوست محمد محمد خان کامل ليکي.

یہ گاؤں بلڑنالہ کے قریب واقع تپہ کول زئی میں شامل تھا اور لڑائی بھی بلڑنالہ کی قرب وجوار میں ہوئی. بلڑنالہ مردان کے شمال مشرق میں رستم اور شہباز گڑھ وغیرہ مقامات سے ہوکر مردان کی جنوب میں قریباً ۸ میل کے فاصلہ پر موضوع غلہ ڈھیر کے قریب کلپانی ندی میں مل جاتا ہے.

قلعہ اٹک کی تعمیر سے پہلے جب شہنشاہ اکبر مرزا حکیم کی تعاقب میں آیا تھا(۱۹۷۹ء/۱۵۷۱ء)تو اس نے نیلاب میں گردونواح کے افغان سرداروں کو راستہ کی حفاظت کے متعلق ان سے بات چیت کرنے کے لئے بلایا، انہوں نے علاقہ میں بڑا نام پیدا کیا ہے چنانچہ شہنشاہ نے اسے بلاکر اس پر بہت زیادہ مہربانی کرکے اس کی قدر افزائی کی اور ملک اکوڑی نے بھی ملازمت شاہی اختیار کرکے اپنے قبیلہ سمیت وفاداری وخدمت گزاری کا عہد کیا. شہنشاہ نے خیر آباد(جو اٹک واقع پنجاب سے تھوڑی فاصلہ پر صوبہ سرحد میں دریائے کابل کے سنگھم کے قریب ایک قصبہ ہے)سے نوشہرہ تک کا علاقہ ملک اکوڑی کو بطور جاگیر عطا کیا. نیز اموال، مویشی کی آمد ورفت پر محصول کرنے کا اختیار بھی دیا. اور شاہی سڑک کی حفاظت بھی اس کے سپرد کردی.(3)

د پورتنۍ حوالې نه دوه خبرې مخې ته راځي. يوه دا چې اکوړ خان شاهي ملازمت اختيار کړو او بله دا چې هغه ته دخېر اباد دغه سلسله د اکوړخان نه پس يحيیٰ خان او شهباز خان ته ر اورسېده، د تاريخي شواهدو نه بريښي چې شهباز خان ته را اورسېده، د تاريخي شواهدو نه بريښي چې شهباز خان په دغه بريدونه وخوزول، د تاريخ مرصع مؤلف د شهباز خان دغه کوششونه داسې بيانوي.

په ذکر شوي عبارت کښې چې محترم کامل صيب د بلړ په حقله کومه نشاندهي کړې ده، دهغې سره په ډېر ادب اختلاف جسارت کوو. ځکه چې بلړ دهغه خوړ نامه ده کوم چې ديار حسين کلی نه راتيرېږي او د نظر باندې نه جنوب ته بهيږي د شهباز خان دغه ياد شوی جنګ د نظر باندې نه جنوب اړخ ته شوی دی. او محترم کامل صيب يې د مقام رود غاړه د اکاخيلو سره يادوي. حال دادی چې اکاخيل په هوتي استوګن وو. او هوتي د هستم نه تقريباً پنځلس کلوميټره لرې پروت دی. محترم کامل صيب مقام رود، بلړ ګڼلی دی او مقام رود چې د رستم نه شهباز ګړې او

ګړې طرف ته بهيږي. دغلته دبلږ ناله يادول ناسم دی. د تفصيل دپاره د کامل صيب دکتاب په مخ ۳۳ جوړه کړې شوې نقشه وګورئ.

په هر حال ددې جنګ په نتيجه کښې دختکو دمشرۍ پټکی د خوشحال خان ختک په سر وتړلی شو. افضل خان ختک د دې مهمې مرحلې ذکر څۀ په دا ډول کوي.

"په دا ميان کښې د سردارۍ له حضوره د بادشاه په نامه د خان علين مکان صادر شه، او منصب د پلار ورته مرحمت شه". (4)

محترم کامل صيب کتاب کښې ددغې عبارت ترجمه کړې ده، او د تاريخ مرصع ۲۳۹، ۲۴۰/ ۴۸، ۴۹ مخ يې ورته حاشيه کښې ليکلې دي، کوم چې ناسم دي. ټيک مخ ۲۳۲/۲۷۱ دی. کامل صيب چې د تاريخ مرصع دکوم مخ حواله ورکړې ده، هغه خوشحال خان ختک له د يوسفزو په جاګير کښې د ورکولو سره متعلقه دی. او په کابل کښې دغه عرض داشت د مير بخشي له خوا د جعفر خان په لاس خوشحال خان ختک ته ورکړی شوی ؤ.

د خوشحال بابا د سردارۍ اومنصبدارۍ د دغې پورته ذکر شوي شاهي فرمان په حواله دوه خبرې د تعجب وړ دي. يوه دا چې تاريخ مرصع د دغې اهم تاريخي دستاويز نقل ولې نۀ دی راخستی، او دويمه دا چې دغه فرمان د خوشحال بابا دمنصبدارۍ تعين نه لري. چې دا څومره وه؟ په هر طور د سردارۍ او منصبدارۍ اخستو نه نهه کاله پس سيد رسول رسا ليکي.

" په کال۱۶۴۹ء کښې چې شاهجهان بادشاه خپله د کندهار د مهم سرته د رسولو دپاره په اټک راپورې وتو او کابل ته تلونو خوشحال خان يې استقبال او کړو. چې بادشاه کابل ته اورسېد، نو خوشحال خان يې په دربار کښې حاضر شو او د يوسفزو دکشالې ذکر يې ورسره اوکړو بادشاه د يوسفزو د ملک انتظام خوشحال خان ته اوسپارلو، او د لنډې سيند پورې غاړه قطب طرف ته د يوسفزو په علاقه کښې يو څو کلي يې خوشحال خان ته په جاګير ورکړل " (5)

د قابل احترام مشر سیدرسول په دغه بیان کښې دوه خبري ناسمي دي، دا چې خوشحال خان په کابل کښې شاهجهان ته د یوسفزو د کشالې ذکر کړې ؤ او بله دا چې بادشاه د یوسفزو په علاقه کښې یو څو کلي خوشحال خان ته په جاګیر کښې ورکړي وو. د وړومبۍ خبرې په لړ کښې عرض دا دی چې شاهجهان کله په اټک راپورې وتلو نو خوشحال ورسره د اټک نه تر ډکې پورې په جلب کښې تللی ؤ، په دغه دوران کښې ترې بادشاه د یوسفزو په حقله څو تپوسونه کړي وو. چې ستا د یوسفزو سره له کومې راهیسې غلیمي ده؟ سرداران یې څوک دي؟ خوراک یې څۀ دی ؟ مړونه په کښې شته کنه ؟ لار ورته څې؟ په دغه غاښي سور تللی شي؟ د دې سوالونو په دوران کښې بادشاه په تخت وو، روان و او خوشحال په انعام ورکانړی، په داخبره علي مردان خان له خان علین مکان نه ازرده شه."(6)

په دغه بیان کښې د لنډې سیند پورې غاړه قطب ته د یوسفزو په علاقه کښې د څوکلو ذکر پته نشته چې محترم سیدرسول رسا له کومه را پیدا کړې ده.

د یوسفزو دغه انعام او جاګیر د خوشحال بابا نه بېرته واخستی شو. په دې حقله کامل صیب لیکي.

"د خوشحال خان نے علاقہ یوسف زئی کا بندوبست اچھی طرح کیا مگر کچھ مدت بعد ولی عہد بادشاہ زادہ داراشکوہ نے بھاکوخان کی طرف داری کی اور اسے خوش کرنے کے لئے یہ علاقہ خوشحال خان کی انعام وجاگیر سے نکلوادیا." (7)

چې د خوشحال بابا د جاګیر دار، منصبدار، یا زمیندار په حقله دغه څېړنه لړه وړاندې بوځو، او دیو څو تاریخي حوالو جاج اخلو. سردار شېر محمد خان ګنډا پور لیکي.

"اور قلعہ تاراگڑھ کے باغی راجہ کے خلاف حملہ کے دوران کارھائے نمایاں انجام دیئے. جب قلعہ فتح ہوگیا، لاہور آکر دربار شاہی میں حاضر ہوا. شاہجہان نے اسے چار لاکھ روپیہ تعداد اداعطاء کیا. اور ایک لاکھ روپیہ سالانہ کی جاگیر اوڈیرہ اس شرط رحمت کیا کہ اسکی آمدنی سے شاہی خدمت کے لئے پانچ سو سوار اور ایک ہزار پیادے نوکر رکھے اور حاضر باش رہا کرے. (8)

دحیات افغاني مؤلف یې په جاګیر کښې دپنځوس زره روپو اضافه کړې ده. هغه لیکي:

کلــه چــې قــلا فــتح شــوه او دی بېرتــه لاهــور د باچــا وحضــور تــه راغــی نــو شــاه جهــان هغــهٔ تــه څلــور لکــه نغــدې روپــۍ وبخښــلي او دکــال يــو نــيم لــک روپــۍ جــاګير يــې پــه دې. شــرط ورتــه وټاکــهٔ چــې پيــنځــهٔ ســوه ســپارهٔ او زر تنــه پلي پوځ د شاهي خدمت دپاره حاضر کړي. " (9)

لــوئ پوهانــد عبــدالحئ حبيبــي صــيب د خوشــحال بابــا ددغــه پورتــه ذکــر شوي جاګير ذکر څهٔ دا رنګ کوي.

"د اجميــر پــه جنــګ کښــي د تــاراګړه کــلا چــا نــه شــوه فــتح کــولې، او دغــه کــلا ورتــه توريــالي خوشــحال او ګټلــه او د دې ګټــې پــه انعــام کښــي ورتــه شاه جهان لک روپۍ نقد انعام او جاګير و بخښلو". (10)

کــه څــهٔ هــم دغــه جــاګير حبيبــي صــيب پخپــل تــاليف پښــتانهٔ شــعراء کابــل چــاپ ۱۹۴۱ء پــور ليکــي. پــه مــخ دوه نــيم لکهــه ليکلــی دی. ولــې وروســته پــه چاپ شوي کتابونو کښې يې د دغې غلطۍ سمونه کړې ده.

دســتر خوشــحال بابــا دمنصــب پــه حقلــه کامــل صــيب خپــل خيــالات داسې څرګندوي.

"پــه بادشــاه نامــه او عمــل صــالح کښــې د شــهباز خــان خټــک نــوم نشــته، او نــه چرتــه د خوشــحال څــهٔ ذکــر شــته دی. پــه بادشــاهنامه او عمــل صــالح کښــې د پانصــدۍ نــه پورتــه د منصــبدارانو ذکــر دی. ددې نــه معلــوميږي چــې خوشحال خان خټک د پانصدۍ نه کم منصبدارو". (11)

البتــه يــوه موقعــه داســې هــم راغلــې ده، چــې مغلــي واکــدارانو خوشــحال بابا د هزاري دوه هزاري منصب پيشکش هم کړی دی،

خو هغهٔ نهٔ دی قبول کړی. افضل خان خټک ليکي:

" هــر ګــاه چــې بادشــاه خبــر شــه چــې خــان عليــين مکــان ملازمــت وکــړ. بهــادر شــاه او اميــر خــان تــه يــې وکښــل چــې پــه هــر شــان چــې شــي خوشــحال لــه لاســه مــه پريــږدئ. پــه هــر څومنصــب چــې راضــي کيــږي راضــي يــې کــړئ، وې ســاتئ. بهادرشــاه د ســيف خــان امــرا پــه معرفــت ورتــه ځــواب وکښــهٔ چــې تــر هــزاري دوه هــزاري پــورې بادشــاه تاتــه منصــب مزحمــت کــړی دی تــه يــې قبــول کــړه. دهٔ ورتــه ووې چــې لــه بادشــاه پــه ماســتم شــوی دی. زهٔ د دې بادشــاه دنوکرۍ خواهش نه لرم". (12)

لـر د خوشـحال بابـا منصب کـه د هـر نوعیـت وخـو داخبـره یقینـي ده چـې دهغـۀ دمـالیې، محصـول د راټولولـو کـارکوونکو شمېر دولـس وو. ځکـه خـو دخپلي ګرفتارۍ په اوان څۀ دارنګ وائي.

ملــک، منصــب، جــاګیر زمــا تغېرشــو مــال محــال
دولــس منصــبدار مــي تــابیني شــول پایمــال (13)

د خوشـحال بابـا د دغـه دولـس منصب دارو ذکـر بادشـاهنامه کښــي هــم راغلی دی. لیکي.

ترجمــه (لیکــوال)، دبلــخ بدخشــان () دمهــم نــه پــه واپســۍ کښــي خوشـحال خـان ختـک د اصـالت خـان پـه وینـا لاهـور تـه لاړ، بادشـاه ورلـه پـه منصـب کښـي اضـافه وکـړه. لـس دولـس کسـان یـې نـور ورلـه پـه منصـب ونمانځـل، دوه میاشـتي یـې پـه لاهـور کښـلې قیـام وکـړو. بیـاوطن تـه راسـتون شو. (14)

دلتــه داخبــره دیــادونې وړ ده، چــې دجــاګیردار لانــدې بــه څــو نــورو کســانو کــارکولو، چــې د هغــۀ لاس بــه پــرې ازاد وو. او پــه مختلفــو امــورو کښــي چــې دغــه کســانو دجــاګیر دار مرســته کولــه ډاکټـر مبـارک علـي دغـه کسـان دعامـل، امـین، فوطـه دار (خزانچـې) متعـدی، مقـدم، منـیم وغیـره په نامو یاد کړي دي. (15)

ډاکټر صیب وړاندې لیکي.

*"اور مگر اکبر نے اپنا منصبداری کا جو نظام ڈالا، اس میں فوجی ہو یا منتظم، اسی تنخواہ کی عوض جاگیر دی جاتی تھی. اس لئے جاگیر انتظامیہ کی تشکیل میں ایک اہم عنصر بن گئ". (16)*

دغـه جـاګیر دارنـو بـه پـه مخصـوص څېزونـو تیکسـونه اخسـتل، او هغـه به یې دخپلي مشرۍ په بندوبست او انصرام لګول.

مؤلف د دغه ټیکسونو په حقله لیکي.

*"ان کے تین ٹیکس اہم تھے محصول راہ، محصول آمدورفت اور محصول میر بحر، قدیم زمانہ میں سڑکیں اور شاہراہیں نہیں ہوا کرتی تھیں. لوگ پگڈنڈیوں پر چلتی تھی. اس لئے زمینداروں نے یہ طریقہ نکالا کہ جو گاؤں سے ہو کر گزرتا اس سے ٹیکس وصول کرتا، جو تاجر اپنا مال لے کر گاؤں میں سے گزرتا تھا. اس مال کی حساب سے ٹیکس دینا ہوتا تھا. جس گاؤں میں ندی یا دریا ہوتا اور وہاں کشتی ٹھہرتی تو اس سے بھی ٹیکس لیا جاتا تھا". ( 17)*

تـر کـومي پـورې چـې خوشـحال بابـا تعلـق دی نـو د هـځه پـه جـاګېر دارانـو بـه يـې د دغـې مراعـاتو پـه بدلـه کښـې د ضـرورت پـه وخـت کښـي د بادشاه فوځي کومک هم کولو.

د دې ذکـر شـوو خـارجي حوالـو نـه سـربيره د خوشـحال بابـا کـلام چـې کـوم داخلـي شـهادتونه لـري. دهغـو نـه دنمـونې پـه ډول يـو څـو ترمخـه چـې خوشـحال بابـا ځـان تـه دمغلـي جـاګېر پـه اسـاس ملـک وائـي. او د هغـوي دملازمت په سبب ځان منصبدار بلي.

اور يـــې پـــورې پـــه منصـــب پـــه نـــوکرۍ شـــه
چـــې تـــر فهـــم وتـــر نظـــر دمغـــل کـــک يـــم (18)

ملـــک يـــې راکـــړی پـــه پنجـــاب کښـــي متصـــل
حکـــم دبادشـــاه و صـــادر شـــوی پـــه پرېښـــول (19)

چـــې منصـــب مـــې دمغـــل خوړوملـــک ووم
چـــې منصـــب د مغـــل نشـــته او س ملـــک يـــم (20)

مـــا وې زۀ بـــه دمغـــل پـــه نـــوکرۍ کښـــي
رکيبونـــوکړم دســـرو دســـپينو نـــال (21)

پـــه منصـــب پـــورې خوشـــحال ختـــک نـــوکر ۇ
چـــې منصـــب ورځنـــې لاړشـــه اوس بادشـــاه دی (22)

راپـــه غـــاړه دمغـــل منصـــب پـــه زور ۇ
تـــۀ بـــه وائـــي چـــې منصـــب نـــۀ ۇ ســـور اور ۇ (23)

د دې نـه پـر تـه سـتر خوشـحال تـه بـه پخپلـه کـورنۍ کښـي احترامـاً خـان وئيلـي کېـدو، او افضـل خـان ختـک پـه تـاريخ مرصـع کښـي د خـان علـيـين مکـان پـه درانـه نامـه يـاد کـړی دی. دافضـل خـان ختـک دغـه يادونـه د ائـين اکبـري تتبـع ښـکاري د څـۀ ترمخـه چـې دبـابر او همـايون دپـاره د عـرش مکـاني او جنـت اشـياني القابـات اسـتعمال شـوي دي. ددې نـه عـلاوه خوشـحال بابـا چـې دخپلـي قبيلـې مشـر ۇ ځکـه يـې د "سـردار" پـه حېثيـت هـم

بیابیا ذکر راغلی دی. سردار په بلوڅو کښې ډېر مستعل دی او خان، ټکی په پښتو کښې رواج لري. په دې لړکښې پروفیسر داني لیکي.

"په لسمه صدۍ عیسوي کښې بلوڅ او پښتانۀ دسردارانو او خانانو په القابو میدان ته را ډاګې ته شول" (24).

***

# حوالې


(۱) کامل، دوست محمد خان، خوشحال ختک. (سوانح حیات اور ادبي اثار پر تبصره) اداره اشاعت سرحد پشاور، ۱۹۵۱ء، ۲۰ مخ

(۲) ختک، افضل خان، تاریخ مرصع، یونیورستي بک ایجنسي پېښور، دچاپ کال نه لري. 268/235مخ

(۳) کامل، دوست خان، خوشحال خان ختک، ۳۴مخ

(۴) ختک افضل خان، تاریخ مرصع۲۲۲/۲۷۱مخ

(۵) رسا، سید رسول، میاں، ارمغان خوشحال، یونیورستي بک ایجنسي پېښور۲۰۰۰ء۱۸مخ

(۶) تاریخ مرصع. ۲۴۰/۲۸۵مخ

(۷) خوشحال ختک. ۶۲مخ

(۸) گنداپور، سردار شیرمحمد خان، تاریخ پښتون، شیخ شوکت علي اینډ سنز کراچي ۱۹۷۹ء، ۵۲۹مخ

(۹) خان محمد حیات، حیات افغاني، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۷، ۳۳۷مخ

(۱۰) حبیبي، عبدالحئ، پښتانهٔ شعراء، (اوله حصه)، یونیورستي بک ایجنسي پېښور دچاپ کال نه لري. ۷۷مخ

(۱۱) خوشحال خان ختک، ۴۱۴ مخ

(۱۲) تاریخ مرصع ۲۸۹/۳۴۷ مخ

(۱۳) ختک، خوشحال خان کلیات ختک، اداره اشاعت سرحد پشاور، ۱۹۶۰ء، ۹۳۸ مخ

(۱۴) لاهوري، عبدالحمید، بادشاهنامه، مطبوعه کلکته، ۱۸۶۷ء، ۹۳۸ مخ

(۱۵) مبارک علي، ډاکټر، جاگیر داري، فکشن هاوس لاهور، ۱۹۹۴ء، ۷۶ مخ

(۱۶) همدغه کتاب، ۷۴، ۷۵ مخ

(۱۷) همدغه کتاب، ۹۴۲ مخ

(۱۸) کلیات خوشحال خان خټک ۵۶۴مخ

(۱۹) ایضاً ۹۴۲مخ

(20) ایضاً ۵۴۲ مخ

(۲۱) ایضاً، ۵۵۰ مخ

(۲۲)ارمغان خوشحال، ۶۹۵ مخ

(۲۳) ایضاً، مخ ۱۰۲۰

(24) Dani، Ahmad Hassan, History of Pakistan, samp. e. Lahore, 2008, p150